**الدرس الثامن** — **اتم درس**

**شروط : لا اله الا الله** — **د لا إله إلا الله شرطونه**

(٦) الاخلاص : ددى مقصد دادى چې انسان خپل ټول نیک عملونه په خالص نیت باندی د هر قسمه شرک او د شرک د میلاوټ نه پاک کړی ، پدي طريقه چي ټولی خبری او کارونه خاص د الله تعالي د مخ او د هغه د رضا طلب کولو دپاره کوی ، هیڅ قسمه میلاوټ د ریاء (ځان ښودنی) او دشهرت په کښې نه وي ، او د دنیوی فائدو او ذاتی اغراضو او د خپل ښکاره او پټ خواهش پوره کولو نه پاک وی، او نه يو عمل دچا محبت د وجی نه کوی، او نه د یو مذهب او ډلے د وجے نه چی د الله پاک ددین نه لری وی ، بلکه د دعوت او تبلیغ مقصد به د الله پاک رضا او د آخرت نجات وی چی په زړه کښې د یو انسان خیال رانشي چی د هغه نه د شکر او دجزاء طلبګاروی ، الله پاک فرمائی : « أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ» الزمر: ٣ترجمه : خبرشئ ! خاص الله پاک لره دین (بلنه) خالص دی ، الله پاک فرمائی: «وَمَا أُمِرُوا إِلاَّ لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ »البينه : ٥) ترجمه : او نه دی حکم کړی شوی دوی ته مګر دپاره ددی چی بندګی دِی کوی د الله پاک چی خالص کونکی وی هغه لره بندګی ، په بخاری او مسلم کښې د عتبان بن مالک رضی الله عنه نه روایت دی چی نبی کریمﷺ فرمائی: «فَإِنَّ اللَّهَ قَدْ حَرَّمَ عَلَى النَّارِ مَنْ قَالَ: لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ يَبْتَغِي بِذَلِكَ وَجْهَ اللَّهِ» متفق عليه ترجمه : پس يقينا الله پاک په اور هغه څوک حرام کړیدی چی لا اله الا الله د الله د رضا د لټولو دپاره ووائی .(٧) المحبة : یعني ددی لوئی شان والا کلمۍ سره محبت کول ، چی دا محبت شامل دی ددی کلمۍ معنی اومقصد ته، او هغه څه ته چی دا کلمه دهغی غوښتنه کوی، یعنی دالله پاک او درسول الله ﷺسره محبت وکړی او ددوی محبت په ټولو محبتونو باندی مخکښې وی، د محبت شرطونه او لوازم په مضبوطوالی سره ونیسی، دالله پاک محبت به پیوسته وی دهغه د اِجلال او تعظیم (لوئی) سره ، اود یری او امید سره، او محبت به کوی د هغه څه سره چی دالله خوښ وی لکه دځایونونه مکه مکرمه او مدینه منوره او عام مساجد او په وختونو کښې رمضان، او لس ورځے دذی الحجے وغیره او په اشخاصو کښې انبیاء کرام، رسولان، ملائک علیهم السلام، صديقين، شهداء او صالحين، او په افعالو کښې مونځ ، زکاة ، روژه او حج وغيره، په اقوالو کښې ذکر او تلاوت د قرآن کريم وغيره،او د الله پاک محبوب دخپل نفس په خواهشاتو او محبوباتو مخکښې کړی. او هغه څه بد وګڼړی چی د الله پاک بدی شی، دالله پاک کفر، فسق او نافرمانی بدی شی.الله پاک فرمائي: «يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَلاَ يَخَافُونَ لَوْمَةَ لآئِمٍ» [المائدة: ٥٤] ترجمه : اے ایمان والو ! څوک چی مرتد شو ستاسو نه ددین خپل نه (په دوستانه دکافرانو سره) پس زردی چی رابه ولی الله پاک داسی قوم چی مینه به کوی الله پاک د هغوی سره او هغوی به مینه کوی د الله پاک سره ، نرم به وی په مؤمنانو باندی ، او سخت به وی په کافرانو باندی ، جهاد به کوی په لاره د الله کښې، اونه به یریږی د ملامتیا د ملامت کړنه.